# د محبتِ رسول


# واقعات

**04-August-2025**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



پۀ 4 ستمبر، کال 2025ء (بمطابق: 10 ربیع الاول، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو
اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د محبتِ رسول واقعات

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---د اللّٰه پاک د محبت حاصلولو شرط
- ---اِیمان کله مکمل کیږي---؟؟
- ---مرګ د مؤمِن د پاره تحفه ده
- ---پۀ سُنَّت طریقه جامې

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُالْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ     وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ     وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د خوږ حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمان مبارک دے:

الصَّلاۃُ عَلَی النَّبِیِّ أَمۡحَقُ لِلۡخَطَایَا مِنَ الۡمَاءِ لِلنَّارِ وَالسَّلَامُ عَلَی النَّبِیِّ أَفۡضَلُ مِنۡ عِتۡقِ الرِّقَابِ

د الله پاک په اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُودِ پاک لوستل ګناهونه دومره زر ورانوي چې اوبهٔ هم دومره زر وور نهٔ مړ کوي او په نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې سلام ليږل د غاړو (يعني غلامانو) د ازادولو نه افضل دے۔ (1)

ایمان والو! سن لو فضیلت درود کی    قربت حضور کی ہے، محبّت درود کی

سب کام بن رہے ہیں کوئی رنج و غم نہیں    لمحہ بہ لمحہ ساتھ ہے برکت درود کی

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!     صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے۔ (2)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ

1 ...القول البدیع، صفحہ:258 ملتقطاً۔

2 ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پۀ اَدب به کښېنم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## اوښ په سجده پریوتو

حضرت انس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عنہ صحابي رسول دے، هغوئي ته 10 کالو پورې د محبوبِ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم د خدمت سعادت نصیب شوے وو۔ هغوئي فرمائي: د انصارو صحابۀ یو کور وو، هغوئي اوښ ساتلے وو، د کروندې د پاره به يې په هغه اوښ اوبه بار کړې او راوړلې، یو ځل داسې اوشول، هغه اوښ سرکشه شو یعني د غُصې نه لیونے شو۔

ستاسو د معلوماتو د پاره عرض دے چې هسې اوښ قلار څناور دے خو کله چې دا ډیر غصّه شي نو د زمري هومره خطرناک شي، انسان قتلولے هم شي۔

خیر! د هغو انصارو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عنہم اوښ سرکشه شو، د هغوئي په قابو کښې نۀ راتلو۔ بیا څه اوشو؟ سُبۡحٰنَ الله!

جنّ　و　اِنس　و　ملک　کو　ہے　بھروسا　تیرا
سرورا　مرجعِ　کُل　ہے　درِ　والا　تیرا

**وضاحت**: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم! پیریان، انسانان او فرښتې ټول پۀ تاسو بهروسه لري، اے د ټول جهان سرداره! د ټولو د فریاد ځائے ستاسو دربار مبارک دے.

هغه انصاري صحابي رَضِیَ اللہُ عنہ هم بارګاهِ رسالت ته حاضر شو۔ په هغه وخت کښې د نور محفل جوړ وو، صحابۀ کرام رَضِیَ اللہُ عنہم حاضر وو، انصاري صحابي رَضِیَ اللہُ عنہ صورتِ حال عرض کړو، ویې وئیل: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم! اوښ سرکشه شوے دے، نزدې هُم نۀ شو ورتلے، ډیره مشکله ده، هُم تاسو کرم اوفرمائۍ!

کام بگڑے ہوئے بنا دینا | کام کس کا ہُوا؟ ہُوا تیرا

خوږ مَحبُوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم عرض واوريدو، صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عنهم ته يـې اوفرمائيل: پاڅئ! ځو-

نو خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم او صحابۀ کرام رَضِيَ اللّٰهُ عنهم د هغه انصاري صحابي رَضِيَ اللّٰهُ عنه د کور طرف ته روان شول-

په هٔغه وخت کښې اوښ په يو باغ کښې وو او په يو قونج کښې ناست وو، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم د هغې طرف ته ور روان شولو، صحابۀ کرامو عرض اوکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم! دا اوښ سرکشه دے، هسې نه چې په تاسو حمله اوکړي- ويـې فرمائيل: لَيْسَ عَلَيَّ مِنْهُ بَأْسٌ يعني ما ته د دې نه څه خطره نشته-

دا يـې اوفرمائيل او د اوښ طرف ته روان شولو- اوس د روايت الفاظ واورئ!

فَلَمَّا نَظَرَ الْجَمَلُ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم أَقْبَلَ نَحْوَهُ حَتّٰى خَرَّ سَاجِدًا بَيْنَ يَدَيْهِ

**ترجمه**: اوښ چې څنګه خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم اوليدو نو په منډه د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې حاضر شو او مخې ته راتلو سره په سجده پريوتو-

اپنے مولیٰ کی ہے بَس شان عظیم، جانور بھی کریں جن کی تعظیم
سنگ کرتے ہیں اَدَب سے تسلیم، پیڑ سجدے میں گرا کرتے ہیں

[زمونږ د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم داسې عظيم شان دے چې ځناور يـې هم تعظيم کوي کاڼي ورته په ادب سره سلام کوي، ونې ورته سجده کوي]

خوږ مَحبُوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم اوښ اونيولو او دوباره يـې په کار لګيا کړو- د اوښ معامله ختمه شوه، د انصاري صحابي رَضِيَ اللّٰهُ عنه مشکل حل شو. صحابۀ کرام رَضِيَ اللّٰهُ عنهم چې د عشقِ رسول معراج ته رسيدلي وو، هغوئي چې کله اوښ اوليدو چې د محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم په حضور کښې سجده کوي نو د هغوئي زړونه بې قراره شول، د عشقِ رسول جذبه يـې نوره

هُم زیاته شوه، په ادب سره یې عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم! دا خو ځناور دے، نا پوهه هم دے، د دې باوجود ستاسو دومره ډېر تعظیم کوي چې تاسو ته سجده کوي، حُضور! مونږه خو انسانان یو، الله پاک مونږ ته عقل هُم راکړے دے (په مونږه باندې چې ستاسو څومره احسانات دي، دومره خو په هیڅچا هم نهٔ دي) پهٔ مونږ باندې زیات حق جوړیږي چې مونږه تاسو ته د تعظیم د پاره سجده اوکړو- خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د یو انسان د پاره هُم جائز نهٔ ده چې [بل] انسان ته سجده اوکړي، که انسان ته سجده کول جائز وه نو ما به ښځې ته حکم ورکړے وے چې خپل خاوند ته سجده اوکړي ځکه چې د خاوند حق ډېر زیات دے-(1)

اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه لیکي:

پیشِ نظر وہ نو بہار، سجدے کو دِل ہے بے قرار | روکیے سَر کو روکیے ہاں یہی امتحان ہے (2)

**وضاحت:** د سترګو پهٔ وړاندې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم جلوه مبارکه ده، د الله پاک د انوارو او تجلیاتومظهر دے، د هغهٔ د تخلیق شاهکار دے، په دې جلوو کښې ډوبیدو سره زړهٔ سر ټیټولو ته بې قراره دے، خو اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه څه فرمائي: چې اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقه! خپله بې قرارۍ پهٔ قابو کښې کړه، هم دا اصل امتحان دے ځکه چې شریعت د دې اجازت نهٔ ورکوي-

بل ځائے کښې لیکي:

اے شوقِ دِل! یہ سجدہ گر اُن کو روا نہیں
اچھا! وہ سجدہ کیجیے! کہ سر کو خبر نہ ہو (3)

---

1...مسند امام احمد، مسند انس بن مالک، جلد:5، صفحہ:445، حدیث:12949۔
2...حدائقِ بخشش، صفحہ:179۔
3...حدائقِ بخشش، صفحہ:131۔

**وضاحت**: یعني سر ټیټولو سره سجده کول جائز نهٔ دهٔ نو ښهٔ ده مونږه د شریعت حکم منو او هغوئي ته سجده نهٔ کوو خوا ے بې قراره زړهٔ! هغوئي ته داسې سلامي پیش کړه چې د دې سلامئ نه سر هم خبر نهٔ شي-

صَلُّوا عَلَى الحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ځناورو د محبت اظهار

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا یوه ښکلې، د مینې ډکه، د ادب او تعظیم نه ډکه واقعه مونږه واوریده، په دې غور وکړئ! کله چې ګران آقا، مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړو نو اوښ څومره په کمال انداز سره د خپلو محبتونو زبردست اظهار اوکړو- د حُضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم په لیدو فوراً په منډه حاضر شو او د ورتلو سره فوراً په سجده پریوتو- **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ګران آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم سره چې ځناورو کوم د مینې اظهار کړے دے، سُبْحٰنَ الله! دا هم یوه جدا موضوع ده ❁ په روایاتو کښې دي: د ګران آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم د نیکه حضرت عبد المُطَّلِب رَضِیَ اللهُ عَنه په تندي مبارک کښې به نورِ مصطفٰی ځلیدو، په هٰغه وخت کښې به چې هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْه ځنګل ته لاړو نو زمري به حاضر شول او عرض به یې کولو: اے عبد المُطَّلِب (رَضِیَ اللهُ عَنه) په ما سورلي اوکړئ! چې د نورِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم د خدمت شرف راته نصیب شي-

❁ سیده عائشه صِدّیقه رَضِیَ اللهُ عَنها فرمائي: خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم یو ځل په کور مبارک کښې غویا ساتلے وو، د هغه غوئي عادت وو چې ټوپونه به یې وهل، (خو د هغهٔ د محبتِ رسول نه قربان...!!) کله به یې چې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم راتلل محسوس کړل نو په آرام سره به کښیناستو، تر څو چې به حضور نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم په کور

کښې تشریف لرلو نو هغه غویا به په سکون سره ناست وو، لږ اواز به یې هم نه کولو چې هسې نۀ حضور ته تکلیف اورسي-(1)

اپنے مولیٰ کی ہے بَس شان عظیم ، جانور بھی کریں جن کی تعظیم
سنگ کرتے ہیں اَدَب سے تسلیم، پیڑ سجدے میں گرا کرتے ہیں(2)

## د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت د ایمان اصل دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د الله او رسول محبت په د دین اهم فرض بلکې وړومبے شرط دے- الله پاک ارشاد فرمائي:

قُلۡ اِنۡ کَانَ اٰبَآؤُکُمۡ وَ اَبۡنَآؤُکُمۡ وَ اِخۡوَانُکُمۡ وَ اَزۡوَاجُکُمۡ وَ عَشِیۡرَتُکُمۡ وَ اَمۡوَالُۨ اقۡتَرَفۡتُمُوۡهَا وَ تِجَارَۃٌ تَخۡشَوۡنَ کَسَادَهَا وَ مَسٰکِنُ تَرۡضَوۡنَهَاۤ اَحَبَّ اِلَیۡکُمۡ مِّنَ اللّٰهِ وَ رَسُوۡلِهٖ

تَرجمۂ کَنزُالعِرفان: ته اوفرمایه: که ستاسو پلاران او ستاسو زامن او ستاسو ورونړه او ستاسو ښځې او ستاسو خاندان او ستاسو د کټې مالونه او هغه تجارت د کوم د نقصان چې تاسو ویره لرئ او ستاسو خوښ کورونه تاسو ته د الله او د هغۀ د رسول نه زیات خوښ وي

په دې آیتِ کریمه کښې اوګورئ! هغه ټول څیزونه د کومو سره چې مونږه محبت لرو، هغه یې بیان کړل، یعني ویې فرمائیل: ستاسو پلارونه، زامن، ورونړه، ستاسو ښځې، کورنۍ، قبیله، خاندان، مال، دولت، تجارت، تر دې چې ستاسو خوښ کورونه...!! په دې کښې د یو څیز محبت هُم ستاسو په زړۀ کښې د الله او رسول د محبت نه زیات نۀ دے پکار، خو

[1]...مسند امام احمد، مسند عائشہ، جلد:10، صفحہ:226، حدیث:25559۔
[2]...حدائقِ بخشش، صفحہ:112۔

که داسې اوشول یعنې ستاسو په زړهٔ کښې د دې څیزونو محبت د رسول کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت نه زیات شو نو څه به کیږي...؟ ویـې فرمائیل:

| | |
|---|---|
| فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ | تَرْجمۂ کَنْزُالعِرْفان: نو انتظار کوئ تر دې چې الله خپل حُکم راولي |

اللّٰہُ اکبر...!! څومره سخت وعید دے...؟ سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې آیتِ کریمه په وضاحت کښې فرمائي: د دې آیت نه معلومه شوه چې که چا ته په دنیا جهان کښې کوم مُعَزّز، څوک عزیز، کوم مال یا کوم څیز هُم د الله او رسول نه زیات مَحبُوب (یعنې خوښ) وي، هغه د دربارِ اِلٰهی نه مردود دے، هغهٔ ته به الله پاک خپل طرف ته لاره [یعنې هدایت] نهٔ ورکوي، هغه له د عذابِ اِلٰهی په انتظار کښې اوسیدل پکار دي. مونږ د دې نه د الله پاک پناه غواړو...!! (1)

| | |
|---|---|
| غم روز گار میں تو میرے اشک بہہ رہے ہیں | تیرا غم اگر رُلاتا تو کچھ اور بات ہوتی (2) |

## د الله پاک د محبت حاصلولو شرط

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ (پارہ:3، سورۂ آلِ عمران:31) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے حبیبه! وفرمایه چې اے خلقو که تاسو د الله سره محبت کوئ نو زما فرمانبرداره جوړ شئ الله به تاسو سره محبت کوي- |

پهٔ دې آیت مبارک کښې ووئیلے شو چې د الله پاک د محبت حاصلولو د پاره اِتباعِ سُنَّت شرط دے یعنې که څوک د الله پاک خوښ بنده جوړیدل غواړي نو هغهٔ له

1... فتاوىٰ رضويه، جلد:30، صفحه:309۔
2... وسائلِ بخشش، صفحه:384۔

www.dawateislami.net

پکار دي چې په سُنَّتو عمل وکړي- ظاهره ده چې پۀ سُنَّت باندې به عمل هُغه کَس کوي د چا چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت وي- ګویا دا فرمائي چې اے خلقو! د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ محبت کښې د هغوئي د سنتو عاشقان جوړشئ، د هغوئي په سنتو عمل کوئ نو اللّٰه پاک به تاسو خپل محبوب جوړ کړي.

اللّٰه کا مَحْبُوب بنے جو تمہیں چاہے | اُس کا تو بیاں ہی نہیں کچھ تم جسے چاہو (1)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** زمونږه اِیمان به هُغه وخت کامِل وي کله چې مونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل ځان نه هم خوږ وګڼو ګني مونږه کامِل مؤمِنان نۀ شو جوړیدے-

## اِیمان کله کامِل کیږي؟

یو ځل د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د مُحَمَّدِ عربي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ بارګاه کښې عرض وکړو: یا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو ما ته زما د ځان نه علاوه د هر څیز نه محبوب یئ- نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائیلو: **پۀ هُغه ذات مې دې قَسم وي د کوم پۀ قبضۀ قدرت کښې چې زما ځان دے! (اے عمره! ستا ایمان به تر هُغه وخته پورې کامِل نۀ وي) تر څو پورې چې زۀ ستا پۀ نزد ستا د ځان نه هم زیات محبوب نۀ شم-** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عرض وکړو: یا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! پۀ خُدائے مې دې قَسم وي! تاسو ما ته زما د ځان نه هم زیات محبوب یئ- پۀ دې اوریدو رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائیلو: **اَلْاٰنَ یَاعُمَر یعني اے عمره! اوس (تۀ د ایمان د ټولو نه اوچتو درجو ته ورسیدې)-** (2)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...ذوقِ نعت، صفحہ:206۔

2...بخاری، جز:4، صفحه:283، حدیث:6632 ملتقطاً۔

د ذات والا صفتونه مونږ ته د ځان نه هم زيات محبوب پکار دي- اګرچه مونږه پۀ ژبه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د خپل ځان نه زيات محبوب وايو او د محبت دعوې کوو خو صرف دومره وئيل کافي نۀ دي بلکې عملي طور د پوره پوره محبت اظهار هم پکار دے- زمونږه بزرګانِ دِين رَحمَۃُ اللہِ عَلَیہِم به صرف د خبرو غازيان نۀ وو بلکې د هغوئي په کردار کښې به د محبت رسول دليل ښکاريدو، د هغوئي د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره دومره عشق وو چې چې مثال يې نۀ ميلاوېږي، هغوئي به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هرې ادا د اِختيارولو کوشش کولو تر دې پورې چې که يو حديثِ پاک به يـې بيانولو او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يوه خاص ادا به اختيارول وو نو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم به هم د هغه حديثِ پاک پۀ بيانولو کښې هغه خاص ادا اختياروله-

## د بيان په دوران کښې مسکے شو...!!

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللہُ عنه چې صحابي رسول دے، يو ځل هغوئي يو حديث مبارک بيانولو، د بيان په دوران کښې (لا حديث مبارک پوره شوے هم نه وو، د هغې په دوران کښې) د هغوئي رَضِیَ اللہُ عنه په شونډو باندې مسکا خوره شوه- حاضرينو ته يـې اوفرمائيل: تاسو زما نه تپوس نه کوئ چې زۀ ولې مسکے شوم؟ ټولو عرض اوکړو: تاسو ولې مسکے شوئ؟ ارشاد يـې اوفرمائيل: کله چې رسولِ هاشمي، مکي مدني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم دا واقعه بيانوله نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم هم مسکے شوے وو- بس د هم دې ادائے مصطفٰی ادا کولو د پاره زۀ هم مسکے شوم-(1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** تاسو وکتل چې صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم به پۀ سُنَّت باندې د عمل کولو څنګه جذبه لرله! هغوئي به د الله پاک د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1... مسلم، کتاب الایمان، باب آخر اھل النار خروجا، صفحہ:91-92، حدیث:187 ملخصًا۔

د ښکلو ښکلو اداګانو د اختيارولو پوره کوشش کولو او په دې لړ کښې به يې دې ته هم نۀ کتل چې که مونږه فلانکے کار ونکړو نو ګناه خو مو نۀ کيږي يا فلانکے کار **سُنَّتِ مُؤَکّدَه** دے او فلانکے کار **سُنَّتِ غیر مُؤَکّدَه** دے وغيره وغيره- هغوئي به بس دومره کتل چې فلانکے کار نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې طريقه وکړو بيا به يې هُغه کار بالکل هم د هُغې طريقې مطابق د کولو کوشش کولو او د چا تنقيد کوونکي تنقيد ته به يې نۀ کتل ځکه چې هغوئي ته معلومه وه چې

عقل کو تنقید سے فرصت نہیں | عشق پر اَعمال کی بُنیاد رکھ

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم داسې زبردسته عاشقانِ رسول وو چې هغوئي به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هرې ادا د اختيارولو د پاره نا قراره وو- په دې باره کښې يوه بله د محبت نه ډکه واقعه واورئ--!!

## د اوښې سره د چکرو لګولو حِکمت

حضرت قاضي عياض مالکي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل مشهور کتاب **شِفاء شريف** کښې نقل فرمائي: په يو ځائے کښې حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُما خپله اوښه راتاؤ کړه، په وجه پوښتلو باندې يې ارشاد وفرمائيلو: ما ته د دې نه علاوه هيڅ معلوم نۀ دي چې ما د الله پاک حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې ځائے کښې په داسې کولو ليدلے وو، ځکه ما هم داسې وکړو- (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم په سُنَّت باندې د عمل کولو جذبې ته وګورئ او بل خوا په خپل محبت باندې هم غور وکړئ چې بالکل تش په نوم، د عمل نه خالي او د ژبې د څوکې تر حده پورې محدود دے- آه! کله چې زمونږ په مخکښې د

---

1...شفا، شريف، القسم الثاني، الباب الاوّل، فصل فيما ورد عن السلف...الخ، جز:2، صفحه:14-

نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکرِ خیر کیږي نو په مونږ باندې څۀ خاص کیفیت نۀ راځي! د دې اُلټا چې به زمونږ د بزرګانِ دِین رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم په مخکښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکرِ خیر کیدو نو د هیبت او د جلال نه به د هغوئي رنګ بدلیدو او په عشق او محبت کښې به د هغوئي د سترګو نه اوښکې جاري کیدلې- په دې باره کښې زړۀ خوږوونکې دوه واقعې واورئ! او عشقِ رسول زیات کړئ!

## (1): زمونږ به په هغوئي باندې رحم راتللو

حضرت اِمام مالِک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي چې د حضرت ایوب سِختِیَاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په مخکښې چې به کله د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حدیث مبارک بیانیدلو نو هغوئي به دومره ژړل چې زمونږ به په هغوئي باندې رحم راتللو-(1)

## (2): په ذِکر مبارک اوریدو به سنجیده کیدلو

حضرت اِمام اِبنِ سیرین رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ډیر خوش طبیعته وو خو چې کله به د هغوئي په مخکښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکرِ خیر کیدو نو ❁ بالکل به سنجیده کیدو ❁ په مخ باندې به یې رُعب راخوریدلو ❁ د بدن مبارک نه به یې عاجزي او اِنکساري ظاهریدله ❁ او د خندا والا انداز به یې بالکل ختمیدلو-(2)

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غم کښې د مدینے منورې نه هجرت

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہم **د عشقِ رسول معیار** دي، په عشقِ رسول کښې به د هغوئي مبارک حالات څنګه وو، په دې باره کښې یوه ایمان تازه کوونکې او د عشقِ رسول نه ډکه واقعه واورئ! په کتابونو کښې لیکلي دي چې

---

1...شفا، شریف، القسم الثانی، الباب الثالث، فصل فی تعظیم النبی بعد موتہ، جز:2، صفحہ:36۔
2...شفا، شریف، القسم الثانی، الباب الثالث، فصل فی تعظیم النبی بعد موتہ، جز:2، صفحہ:37 مفصلاً۔

زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري وِصال نه پس د ډیرو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم د پاره پۀ مدینه منوره کښې ژوند تیرول ګران شو ځکه چې کله به هغوئي پۀ مدینه منوره کښې د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ناستې پاستې ځایونه او هُغه کوځې لیدلې چرته چې به رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګرځیدلو نو ډیر به غمژن کیدل او هغوئي د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جُدائي نۀ شوه برداشت کولے نو پۀ دې وجه هغوئي د مدینے منورې نه هجرت وکړو۔ (1)

## د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مؤذِن د مدینے منورې نه هجرت

حضرت بلال حبشي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جدائي برداشت نۀ کړے شوه، کله کله به د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ داسې حالت شو چې د مدینے منورې پۀ کوڅو کښې به د لیونو پۀ شان ګرځیدو او د خلقو نه به یې پوښتنه کوله چې که تاسو چرته د مدینے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لیدلے وي نو ما ته یې هم وښایئ۔ اخر یې جُدائي برداشت نۀ کړه او هغوئي مدینه منوره پریښوده او د شام ملک **حَلَب** ښار کښې یې استوګنه اختیار کړه۔ څۀ موده پس چې کله یوه شپه اودۀ شو نو بخت یې رابیدار شو او پۀ خوب کښې یې د مدینے د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زیارت نصیب شو، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورته وفرمائیل: مَاھٰذِہِ الْجَفْوَۃُ یَا بِلَال! اَمَا اٰنَ لَکَ اَنْ تَزُوْرَنِیْ یعني اے بلاله! دا څنګه جفا ده! آیا اوس لا هُغه وخت نۀ دے راغلے چې تۀ زما د زیارت د پاره حاضر شې۔

د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمان اوریدو سره حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د سفر سامان راواخستو او پۀ سورلۍ باندې کیناستو او د مدینے منورې طرف ته روان شو او ډیر پۀ تیزۍ سره به یې منزلونه پاس کول د مدینے منورې طرف ته ر لا رو۔ یاد ساتئ چې د چا اِرادې چې د مدینے منورې د پاره وي د هغۀ پۀ اخوا دیخوا ماحول هیڅ کار نۀ وي

1...مدارج النبوۃ، جلد:2، صفحه:444 ملتقطاً۔

ځکه د حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پۀ ذِهن کښې هم يو څيز وو چې زر تر زره د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې حاضر شي-

گھر سے کہیں اچھا ہے مدینے کا مسافر | یہاں صبح وطن شام غریب الوطنی ہے
کہتا ہے مسافر سے یہ ہر نخلِ مدینہ | آرام ذرا لے لو یہاں چھاؤں گھنی ہے

اخر دا عاشق د مدينے منورې ښکلو ښکلو فضاګانو ته ورسيدو، د مدينے منورې کوڅو ته چې ورسيدو نو د زړۀ دُنيا يـې بدله شوه، پۀ زړۀ يـې د خوشحالۍ او مستۍ حالت راخور شو، د ليونو پۀ شان يـې د مدينے منورې پۀ کوڅو کښې د مدينے تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لټولو، چې رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يـې د مدينے منورې پۀ کوڅو کښې اونۀ ليدلو نو د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت بي بي عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنْہا پۀ حجره مبارکه کښې موجود د رسولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قبر مبارک ته حاضر شو او پۀ ژړا ژړا يـې عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د حَلَب نه مو غلام د زيارت د پاره راووغوښتو او چې اوس غلام د زيارت د پاره حاضر شو نو تاسو پۀ پرده کښې پټ شوئ-

غرض دا چې دلته عرض او معروض پيش کيدلو او هلته پۀ مدينه منوره کښې دا خبر خور شو چې د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مؤذِن حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مدينے منورې ته تشريف راوړے دے، بيا د ټولو پۀ نظر کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جلوې بيا راتازه شوې، نا قلاره زړونه پۀ دړزيدو شو، خلقو پۀ منت زارو او پۀ ژړا ژړا پۀ خواستونو کولو د حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه يو ځل بيا د اَذان کولو غوښتنه وکړه خو حضرت بلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ معذرت وکړو او اِرشاد يـې وفرمائيلو: اے ورونړو! تاسو ته معلومه ده چې کله به ما د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ ظاهري ژوند کښې اَذان کولو نو پۀ اَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوۡلُ الله وئيلو به مې د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار کولو خو آه! نن به هغه منظر د سترګو نه پناه وي! ځکه زۀ د اذان کولو طاقت نۀ لرم- بهر حال سَيِّدُنا

بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ يو حالت کښې هم د اذان کولو د پاره نهٔ راضي کيدلو-

بعضې صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم دا مشوره وکړه چې ولې نهٔ چې حسنينِ کريمين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما راوبللے شي چې د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسي ورته فرمائش وکړي نو بيا به د حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره د اِنکار کولو ګنجائش نهٔ وي- نو خلقو زر دواړه شهزادګان راوستل- حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دواړه شهزادګان سينې ته راجخت کړل او مينه يې ورسره شروع کړه- شهزادګانو فرمائش وکړو: اے بلاله! يو ځل مونږ ته هُغه آذان وکړه کوم چې به تاسو زمونږ د نيکه بابا جان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ ظاهري ژوند کښې کولو- بيا د اِنکار ګنجائش چرته وو؟ نو حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مسجدِ نبوي شريف د چت هُغه حصې ته تشريف يوړلو چرته چې به يې د حضور نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ ظاهري ژوند کښې اذان کولو-

چې کله حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مدينے منورې پهٔ ښکلو فضاګانو کښې پهٔ خپل ښکلي اواز کښې د **الله اکبر، الله اکبر** نه اذان شروع کړو نو ديوالونه ولړزيدل، د خلقو د نا قرارۍ حالت شروع شو، پهٔ مدينه منوره کښې د اذان پهٔ کيدو خلق سلګو ونيول، ټول خلق د خپلو کورونو نه بهر راغلل، حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې **اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله** ووئيل نو پهٔ زړګونو چغې يو دم په فضا کښې بلندي شوې او هُغه وخت د خلقو د ژړيدو شان څهٔ بل شان وو، ورو ماشومانو به د خپلو مئيندو نه پوښتنه کوله چې د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مؤذِن حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خو راغلے دے خو د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوراني مخ پهٔ نظر نهٔ راځي، هغوئي به کله تشريف راوړي؟

بهر حال چې کله حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ **اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله** ووئيل او خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يې مخامخ اونهٔ ليدو نو د جدايۍ پهٔ غم کښې يې يوه تيزه چغه ووهله او بے هوشه شو او زمکې له يې تشريف راوړو، چې کله پهٔ هوش کښې راغلو نو راپاڅيدو او

پۀ ژړا ژړا بيا شام ته روان شو-[1]

## د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وصال

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** چې کله د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د وصال وخت رانزدې شو نو د هغوئي بي بي پۀ ژړا ژړا ووئيل: وَاحُزۡنَاہُ يعنې هی د غم خبره! حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خپلې غم زپلې بي بي له دلاسه ورکړه او اوئې فرمائيل: وَاطَرَبَاہُ يعنې واه د خوشحالئ خبره! غَدًا نَلۡقَی الۡاَحِبَّۃَ مُحَمَّدًا وَحِزۡبَہٗ يعنې سبا به مونږ د خپلو دوستانو يعنې د خپل آقا او مولا مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د هغوئي د دوستانو سره ملاقات کوو-[2]

چا شاعر ډير ښه وئيلي دي:

قبر میں سرکار آئیں تو میں قدموں میں گروں | گر فرشتے بھی اُٹھائیں تو میں ان سے یہ کہوں
اب تو پائے ناز سے میں اے فرشتو! کیوں اٹھوں | کہ مر کے پہنچا ہوں یہاں اس دِلرُبا کے واسطے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مرګ د مؤمِن د پاره تحفه ده

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** مرګ د مؤمِن د پاره تحفه ده[3] او دا د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زيارت يوه ذريعه ده- ځکه مؤمِن د مرګ نه نۀ ويريږي بلکې هغه خوشحاله وي چې د مرګ نه پس به د هغۀ د مدينے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زيارت نصيب کيږي-

## د ټول مال او اولاد پۀ بدله کښې د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: زما د

---

1...مدارج النبوۃ، جلد:2، صفحہ:583 ملتقطاً۔
2...احیاء العلوم، جلد:5، صفحہ:231 ملتقطاً۔
3...شعب الایمان، باب الصبر علی المصائب...الخ، فصل فی ذکر ما فی...الخ، جلد:7، صفحہ:171، حدیث:9884۔

ظاهري وصال نه پس به داسې خلق هم وي کوم چې به ارمان کوي چې کاش! د هغوئي ټول مال او اولاد د هغوئي نه واخستے شي او د دې پۀ بدله کښې هغوئي زما ديدار وکړے شي۔[1]

قسمت مجھے مل جائے بلالِ حبشی کی | دم عشقِ محمّد میں نکل جائے تو اچھا ہے

## زنانه پۀ ژړا ژړا وفات شوه

د ټولو مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت بي بي عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا پۀ خدمت مبارک کښې يوه زنانه حاضره شوه او عرض يـې وکړو: پۀ ما باندې د تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قبر مبارک زيارت وکړئ۔ حضرت بي بي عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا حجره مبارکه کولاؤ کړه او هغې زنانه د قبر مبارک زيارت وکړو او پۀ ژړا ژړا وفات شوه۔ [2]

آپ کے عشق میں اے کاش! روتے روتے | یہ نکل جائے میری جان مدینے والے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** تاسو وکتل چې يوې زنانه چې د قبر مبارک زيارت وکړو نو عشق او محبت پرې راخور شو او هغې پۀ ژړا ژړا پۀ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې پۀ ساه ورکولو د خپل ځان نذرانه پيش کړه! داسې به زمونږه د بزرګانو هم د مدينے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره عقيدت او محبت وو خو افسوس چې نن پۀ مونږ کښې پۀ صحيح معنو کښې د محبت جذبه او ولوله پاتې نۀ شوه۔ صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم به صرف پۀ خُله د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره محبت نۀ کولو بلکې عملي طور به يـې د دې ثبوت ورکولو، او مونږه صرف د خُلې دعوې کوو خو زمونږه عمل د دې دعوې سره مطابقت نۀ لري۔ صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم به د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ يوه يوه ادا باندې د عمل کولو د پاره هر وخت تيار اوسيدل۔

---

1... مسلم، کتاب الجنۃ...الخ، باب فیمن یود...الخ، صفحہ:1089، حدیث:2832ماخوذاً۔

2...سبل الهدیٰ و الرشاد، جلد:12، صفحه:343 ماخوذاً۔

## د محبوب د ادا سره محبت

حضرت اَنس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي چې یو درزي رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم له دعوت ورکړه، زۀ هم د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره پۀ دعوت کښې شریک شوم، د وربشو ډوډۍ او خوروا د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخې ته پیش کړے شوه پۀ کوم کښې چې ګدّو او وچه کړے شوې نمکینه غوښه وه، د خوراک کولو پۀ وخت ما رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولیدو چې د لوښي پۀ غاړو کښې د ګدّو ټوټې لټوي، ځکه زما د هٰغه ورځې نه ګدّو خوښ دے۔[1]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! تاسو وکتل چې صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم به د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوښې خومره خیال ساتلو خو آه! مونږ پۀ ډیرو معاملو کښې د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوښه او سُنَّت پرېږدو ❀ د عقیقې ❀ نِکاح ❀ او د ولیمې پۀ شان د سُنَّتو د ادا کولو پۀ موقع باندې مونږه د سُنَّتو پۀ ځائے د فیشن خیال ساتو۔ د فیشن مطابق جامې ګنډو، ویښته کټ کوو او ګیره خیریو او خپل مخ د وور د عبادت کوونکو پۀ شان کوو۔ که مونږه خپل خاندان ته نظر وکړو نو معلومه به شي چې د خاندان د یو ګس هم د زلفو د ساتلو سعادت نۀ دے نصیب شوے حالانکې زلفې ساتل د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلې ښکلې سُنَّت دي، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم همیشه زلفې ساتلې دي ❀ کله دغوږونو نیمې پورې ❀ کله پوره غوږونو پورې ❀ او کله چې به زیاتې غټې شوې نو مبارکو اُوګو سره به لګیدلې۔ [2]

## د مشرکانو مخالفت کوئ

د ګیرې څۀ ښکلے شان، زمونږه خوږ آقا، مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ګیرې

---

1...بخاری، کتاب الاطعمہ، باب المرق، صفحہ:1390، حدیث:5436۔

2...الشمائل المحمدیه، صفحه:18 و 34 و 35 ملتقطاً۔

سره ډير محبت لرلو. پهٔ حديث شريف کښې دي: خَالِفُوْا الْمُشْرِكِيْنَ وَفِّرُوْا اللِّحٰى وَاَحْفُوْا الشَّوَارِبَ يعنې د مشرکانو مخالفت کوئ، ګيرې اوږدې کړئ او بريت ښهٔ کم کړئ [1] ❁ پهٔ يو ځائے کښې يـې اِرشاد فرمائيلے دے: مَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ يعنې چا چې زما د سُنَّت نه مخ واړولو هغهٔ زما نه نهٔ دے [2] ❁ پهٔ يو حديثِ پاک کښې فرمائي: مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ يعنې کوم کَس چې د کوم قوم سره مشابهت اِختيار کړي هغه به هم د هغوئي نه وي۔ [3]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! زمونږه د آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰی، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ږيرې شريفې سره مينه ده، هم دې وجې نه د اميرِ اهلِ سنت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هم د ږيرې شريفې سره ډيره مينه ده، اميرِ اهلِ سنت د ږيرې په باره کښې د خپلو جذباتو اظهار کښې فرمائي: اللّٰه پاک دې مونږ ته د ايمان ژوند او په ايمان مرګ رانصيب کړي د دې نه مخکښې چې زمونږه مخ مَعَاذَاللّٰه! د د خوږ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دښمنانو په شان شي! افسوس! نن سبا ډير مسلمانان د ږيرې شريفې خريوي يا يـې بوندۍ کوي او هغه وينښته د ګنده نالو په ګنده اوبو کښې شاملوي! آه! د داسې خلقو به په آخرت کښې څه انجام کيږي؟ داسې خلق دې سترګې وغړوي۔

ياد ساتئ! يو موټے ږيره پريښودل واجب او ږيره خريل يا د يو موټې نه کمول دواړه حرام او دوزخ ته بوتلونکي کارونه دي۔ اوګورئ! د ږيرې پريښودل د ټولو انبيائے کرامو عليهمُ السَّلام مبارک سنت دي، يو نبي داسې نشته چې هغهٔ مَعَاذَاللّٰه! ږيره خريلې وي۔ داسې يو ولي هم ږيره خريونکے نه شي کيدے۔ اللّٰه پاک دې مونږ ټولو ته د ږيرې شريفې پريښودلو توفيق راکړي، کاش چې! مونږه ټول د سنتِ مصطفٰی عاشقان جوړ شو، کاش

1 ... بخاري جز:4، صفحه:75، حديث:5892۔

2 ... بخاری، جز:3، صفحه:421، حديث:5063۔

3 ... ابو داود، جز:4، صفحه:62، حديث:4031۔

چې! سل کروړه کاش چې! د سر نه تر پښو پورې زمونږه ټول وجود د سنت په قالب کښې داسې واچولے شي چې د سنتو نمونه جوړ شو- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د نن سبا د فتنو نه پۀ ډک وخت کښې د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي مونږ ته د غيرو د پرېښودو او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم د لَمن د نيولو، د غيرو د طور طريقو او د فيشن پرېښودو او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلو ښکلو پاکو سُنَّتو د اختيارولو درس راکوي او پۀ دې کښې د دُنيا او د اخرت کاميابي ده-

## پۀ سُنَّت طريقه جامې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د فيشن والا جامې پرېږدئ او د سُنَّتو والا جامې اختيار کړئ-

پۀ جامو کښې سُنَّت دا دي چې ❀ د قميص د لَمن اوږد والے تر نيمو پنډو پورې وي ❀ د لستونړو اوږد والے زيات نۀ زيات د ګوتو د سَرونو پورې ❀ پلن والے يوه لوېشت وي ❀ د نارينه پرتوګ يا پاجامه د ګيټو نه بره وي- د بده مرغه نن مونږ له پينسې د ګيټو نه پۀ بره ساتلو شرم راځي حالانکې دا د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلې ښکلې سُنَّت او د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم او د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم طريقه ده، خو ډېر عوام د دې سُنَّت نه محرومه دي او پينسې د ګيټو نه ښکته ساتي-

ياد ساتئ چې د تکبر پۀ وجه د پاجامې يا د پرتوګ پينسې د ګيټو نه ښکته ساتل حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے او پۀ دې باندې د سخت عذاب وعيد دے- لکه څنګه چې پۀ دې حديثِ پاک کښې دي: د تهبند (يعني پرتوګ) چې کومه حصه د ګيټو نه لاندې ده هغه پۀ وور کښې ده[1] ❀ پۀ يو بَل حديثِ پاک کښې دي: يو کَس پۀ تکبر سره خپل

1...بخاری، کتاب اللباس، باب ما اسفل من... الخ، صفحہ:1461، حدیث:5787۔

تهبند [پهٔ ځان پسې] راښکلو چې پهٔ دې کښې هغه پهٔ زمکه کښې کيمنډلے [راښکلے]شو او هغه به تر قيامته پورې پهٔ زمکه کښې کيمنډلے روان وي-[1]

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** پهٔ خپلو جامو باندې د غور کولو عادت جوړ کړئ چې لږ شان پام بدليدل تاسو د بے شميره سُنَّتو نه محرومه کوي، دغه شان لږه شان توجه تاسو پهٔ ډيرو سُنَّتو باندې روانوي، څکه وخت پهٔ وخت د خپلو جامو جاج اخلئ او نيت وکړئ چې د نن نه پس به مونږه د سُنَّتو مطابق جامې ګنډو- که کيدے شي نو د سپينو جامو د اغوستو عادت جوړ کړئ چې دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښې جامې دي او نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې د اغوستو ترغيب فرمائيلے دے- پهٔ حديثِ پاک کښې دي: **سپينې جامې اغوندئ او خپل مړي هم پهٔ سپينو جامو کښې پهٔ کفن کوئ-** [2]

اللّٰه پاک دې زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّتو باندې د عمل کولو د جذبې توفيق نصيب کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: يوه ورځ د اللّٰه پاک پهٔ لار کښې

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پهٔ زړهٔ کښې د اللّٰه او د رسول محبت زياتولو، د ايمان او د يقين پخولو او د دِين او د دُنيا د خيرونو موندلو د پاره د دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي- پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **يوه ورځ د اللّٰه پاک پهٔ لار کښې** هم دے-

✿ **د دې وخت عظيم او روحاني شخصيت** اميرِ اهلسنّت مولانا محمد الياس عطار

---

1...بخاری، کتاب احادیث الانبیاء، صفحہ:894، حدیث:3485۔

2...ترمذی، جز:4، صفحه:370، حديث:2819 ملتقطاً۔

قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مونږ له دا مَدَني مقصد راکړے دے چې **"ما ته د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي۔"** اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم!

❁ **د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول** د دې مَدَني مقصد پوره کولو د پاره کلي ،بانډو، د ښار ارخونو او د ښار داسې علاقې چرته چې ديني کار کمزورے وي هلته ځي او د نيکۍ دعوت عام کوي ❁ په هره يوه ورځ خصوصاً د جُمعې/اتور په ورځ اِسلامي ورونه دغه علاقو ته ځي ❁ هلته په جومات کښې نفل اعتکاف کولے شي ❁ د نيکۍ دعوت عام کولے شي ❁ تاسو هم تشريف راوړئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! ❁ د عِلمِ دِين زده کولو موقع به درته ميلاويږي ❁ د نيکۍ د دعوت ورکولو ثواب به درنصيب کيږي ❁ د **الله** پاک په لاره کښې به د وتو سعادت درنصيب کيږي ❁ د حديثِ پاک خُلاصه ده: په کوم قدم باندې چې د **الله** پاک په لار کښې دوړه پريوځي، هغې ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کيږي (1)
❁ کوم کَس چې د **الله** پاک د رضا د پاره د خپلو مسلمانانو ورونو خوا له د ښار ارخونو ته لاړ شي، په **حديثِ پاک** کښې د هغه د پاره د جنّت زيرے راغلے دے۔ (2)

## مونږ خو بَس د دعوتِ اِسلامي شو

يو اِسلامي ورور وائي چې د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما د عامو ځلمو په شان په غفلت کښې ژوند تيرولو، سندرې سازونه اوريدل زما د خوښې کارونه وو د کومو د پاره چې ما يو ريډيو هم اخستے وو، زما بخت څۀ داسې رابيدار شو چې يوه ورځ زمونږ علاقې ته يو څو اِسلامي ورونه يوه ورځ د **الله** پاک په لار کښې د تيرولو د پاره راغلل، په هغوئي کښې يو اِسلامي ورور ما ته په دې ديني کار کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، لهٰذا زۀ هم د يو څو دوستانو سره د هغوئي سره شامل شوم، د واپس راتللو په وخت

---

1...مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حديث:16356 خلاصةً۔

2...معجم اوسط، جلد:1، صفحه:472، حديث:1743۔

يو اِسلامي ورور مونږ ته د هفته وارې اجتماع دعوت راکړو نو مونږ عرض وکړو: که ياد وو راته نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ضرور به شرکت کوو۔

بهر حال مونږ په اجتماع کښې شرکت وکړو، هلته هم د هغه اِسلامي ورور سره ملاقات وشو چا چې مونږ ته د اجتماع دعوت راکړے وو، هغهٔ دومره په ښو اخلاقو ميلاؤ شو چې بس مونږ خو د دعوتِ اِسلامي شو۔ زما خو چې لکه د ژوند انداز بدل شو، د نـمونځونو پابندي مې نصيب شوه، د سندرو ځائے نعت شريف واخستو، مخ مې په ږيره ښائسته کړو او عمامه مې په سر کړه او داسې د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته راغلم۔

عطائے حبيبِ خدا ديني ماحول | ہے فَيضانِ غوث ورضا ديني ماحول
تُو داڑھی بڑھا لے عِمامہ سجا لے | نہيں ہے يہ ہرگز بُرا ديني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ايپلي کيشن تعارف: بهارِ شريعت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د جديد ټيکنالوجۍ په ذريعه هم د نيکۍ د دعوت په عام کولو کښې مصروف دے، دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د **I.T** ډيپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، په کومو کښې چې يو موبائل ايپلي کيشن دے: بهارِ شريعت۔ ❀ د صدر الشريعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ډير اعلیٰ کتاب بهارِ شريعت درې واړه جلدونه په دې ايپلي کيشن کښې شامل کړے شوي دي ❀ د دې نه علاوه په بهارِ شريعت کښې شامل قرآني آيتونه، حديثونه، اصطلاحات او لغت د دې ايپلي کيشن برخه ده ❀ تاسو په دې ايپلي کيشن کښې د خپلې خوښې متن هم لټولے شئ ❀ د سرچ د نور ښهٔ کولو د پاره په دې کښې د اُردو د کي بورډ سهولت هم دے چې په ايپلي کيشن کښې په سرچ کولو کښې اساني وي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاكره كوي، د راتلونكې خالي پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس پهٔ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاكره كيږي، پهٔ كومه كښې چې به شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم وركوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاكره كښې پخپله هم شركت وكړئ او نورو له دې هم دعوت وركړئ ❁ شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان كوي، پهٔ راتلونكې هفته واره مَدَني مذاكره كښې به د اربعين عطّار (قسط: 3) رسالې اعلان كولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب وركړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په اجتماعِ ميلاد او جلوسِ ميلاد كښې د شركت ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يومِ ميلاد تشريف راوړي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي زيرِ انتظام د ميلاد په شپه عظيم الشان اجتماعِ ميلاد كيږي، پهٔ هغې كښې نعت خواني هم كيږي، بيان هم كيږي او د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقان پهٔ خپل آقا او مولا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په ډير شوق او ذوق سره د درودِ پاک نذرانې هم پيش كوي، او صلوة او سلام وئيلو سره د سپرلى د سحر [صبحِ بهاراں] استقبال كوي، تاسو هم په دې اجتماع كښې او په دولسم شريف كيدونكې جلوسِ ميلاد كښې لازمي شركت اوكړئ!

❁ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د ډير درودِ پاک لوستلو ❁ د نعتونو اوريدلو او ❁ د خپل ګران آقا صَلَّى

اللہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم د ذکرِ خیر اوریدلو او ډیر ډیر مرحبا یا مصطفٰی د نعرو وهلو سعادت به حاصل کړئ۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1500 کلن جشنِ ولادت | مرحبا! صد مرحبا! | راغلو شاهِ ختمِ نبوت | مرحبا! صد مرحبا! |
| راغلو تاجدارِ رسالت | مرحبا! صد مرحبا! | راغلو جهان ته جانِ رحمت | مرحبا! صد مرحبا! |
| صاحبِ عظمت و شان و شوکت | مرحبا! صد مرحبا! | تږولو نه لوئي د الله نعمت | مرحبا! صد مرحبا! |
| آمِنه وځلیدو ستا قسمت | مرحبا! صد مرحبا! | غیرېږي ته دي راغلو د الله رحمت | مرحبا! صد مرحبا! |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

### ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَ سَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر

1 ... القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مینځه کښېنولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حیران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې

---

1 ... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2 ... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

3 ... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵